شروع کوم په نامه د خدائے چې بخښونکے او مهربان دے

# ستر فخر افغان باچا خان او رهبر تحریک خان عبدالولي خان

# دوه بې رویه بې ریا آئینې

د جنورۍ د دوه زره لسم کال په شلمه نېټه د لوئے فخر افغان باچا خان دوه ویشتم او په شپږ ویشتمه نېټه د رهبر تحریک خان عبدالولي خان څلورم تلین دے. هرڅو کۀ دا وخت د اسفندیار ولي خان په مشرۍ کښې د باچا خان د عدم تشدد د فلسفې د منونکو د امن قافله د رهبر تحریک ولي خان د جمهوري رویې په لار د یو قدم او یو اواز سره روانه ده او انشاءالله روانه به وي خو په کومو غمژنو زړونو چې هغوي په کلونو کلونو باچائي کړې ده، د هغوي د بې بدله قیادت او قدوقامت د سایې نه بغېر به ورته د بېلتانۀ نمر هغسې نېزوال ښکاري او حقه خبره هم دا ده چې باچاخان او ولي خان تش نومونه نۀ دي، د هغوي ساه ساه او قدم قدم د خپل تس نس قام په راغونډولو، روزلو، پاللو او پوهولو کښې تېر شوي دي. د هغوي د کار او کردار لمنې د بې عملۍ، کوتاهۍ او ارام طلبۍ د هره داغه پاکې وې. قام او اولس ته ئې د فکر و نظر فلسفې او اصولو دومره خزانې سپارلې دي چې تر کومې تورې شپې او تورې تیارې وي هغه اصول به د دې قام او اولس رهبري او رهنمائي کوي.

د شلمې عیسوي پېړۍ په ابتداء کښې د باچا خان پېدا کېدۀ، د پښتنو د زرګونو کالو د ژوند هغه بختوره ابتداء او مرحله ده په کومه کښې چې په اصل کښې پښتنانۀ ذهني طور زېږېدلي دي او یو ځل هم ذهني او شعوري طور زېږېدلے قام کۀ وخت او حالات هر څو په پړ مخ ګوزار کړي، هغه خپل ځان په خپله په مخ کولے شي.

د باچا خان او د هغۀ د غېرتي ملګرو د جدوجهد په برکت د نن پښتون تخلیق کار د دې جوګه دے چې پښتون ته د خپل وطن صورت حال داسې پېش کړي چې:

زۀ په دې زمکه باندې هسې کرښې نۀ وباسم　　　زۀ پرې دننه د پرتو خزانو شمار کوم

دا نن چې په دې وطن کښې د جنګ او لمبو ګډې وډې نظارې دي، دا د ځنې بهرنو قوتونو د نوم ترحده د مفاداتو خبره نۀ ده، واقعتاً د دې قام د وطن سینه د قدرتي وسائلو نه ډکه او برجقه پرته ده. دا جنګ په هغې

دے او دا جنګ په دې دے چې کۀ پښتون يو ځل خپل وطن جوړ کړو (چې دا په ننني دور کښې ممکن هم دے او اسان هم) نو سبا به د نور هر څۀ نه علاوه دومره غنم پېدا کولے شي چې نورو خلقو له به ئې هم ورکولے شي او ننني پښتون د باچا خان او ولي خان د کلونو کلونو د سترې په رڼا کښې اوس په دغو مقاصدو پوهه شوے دے. اوس هغه د نړۍ د باوقاره قامونو قطار ته د ځان رسولو هڅه کوي.

د جنګ دپاره هم د پښتون د کور انتخاب هسې نۀ دے شوے، دا په دې چې د پښتنو نه د خپلې يوې پېړۍ د جدوجهد پنګه وتروړي او د ذهن نه ئې دا نشه وباسي چې دے چا په دې پوهه کړو چې د دې خيال سندره دې ووائي چې:

اے زما وطنه د لالونو خزانې زما ستا هره دره کښې دي د تورو نښانې زما

خو هغو قوتونو ته شايد دا نۀ ده معلومه چې اوس د هرې اجتماعي پېښې په وخت کۀ باچا خان او ولي خان وي او کۀ نۀ د هغوي د کار او عمل نه ډک روحونه هم هغوي په خپله رابلي او د رهبرۍ نه ئې رڼا اخلي. اوس په زرګونو لکونو نۀ بلکې په کروړونو دغه زېرېدلے قام کۀ هر څو وينې وينې هم دے خو نۀ ئې څوک وژلے شي او نۀ ئې ختمولے شي. اوس دغه خلق د خپل قامي وجود نه بيلول د نن وخت د ټولو نه لويه ناداني او سادتوب دے. اوس بايد چې دنيا د باچا خان د امن او عدم تشدد فلسفه يوائې د پښتنو دپاره د نجات لار ونۀ ګڼي، بلکې ټوله دنيا بايد چې د ټولې دنيا د امن له خاطره د دغسې اصولو په حضور کښې سجدې له راشي. دې حقيقت له راتلۀ به د هغو نظامونو د کاواکو شوو اسونو واګې وهل وي، کوم چې د سرېتوب د دائرې نه وتي د خلقو په سرونو ورخېژي او د مجبورو قامونو او وړو ترړو اولسونو د بدنونو وينې څښي. د باچا خان د عدم تشدد د فلسفې دننه د امن اعلان صرف د خپل قام او خپلې ټولنې د ژوند تېرولو لار نۀ ده. د ټولې دنيا او ټول انسانيت دپاره د خدائے او خدائے د حق پېغمبر(ص) د ورکړے شوي انصاف او مساواتو د سرچينې هغه روڼ رود دے، کوم چې د تمام انسانيت تنده وژني او توازن ئې برقرار ساتي.

دا ډېره د افسوس خبره ده چې اقوام عالم تنظيم او منشور لري خو انسانيت اوس هم د بارودو په ډېرۍ ولاړ ژوند کوي. وېلفئير سټېټونه او تنظيمونه موجود دي خو د سُود او استحصال د دوزخونو هم کمے نشته چې بې وسه او بې دسته قامونه اولسونه او افراد پکښې په مسلسل ډول سوزي.

نن ټوله دنيا د شدت پسندۍ نه چغې وهي او خطره محسوسوي خو د انسانيت د بقاء دپاره د انسانيت د تذليل په نظامونو کښې بدلون ته نۀ تيارېږي. د انسانيت د بقاء دپاره چې د انسان د حق کوم جدوجهد باچا خان کړے دے بايد چې د هغې قدر او احترام وکړے شي نو نۀ يوائې د پښتون کور به د جنګ د مېدان په ځائے د امن مېدان شي او چې دا ځائے د امن مېدان شي نو شايد چې دنيا هم د امن کور شي ځکه چې تشدد د پښتون په کور کښې نۀ دے، د دنيا د مفاداتو په سترګو او زړۀ کښې دے.